انجنير عبدالصبور صافی ۲۰۱۸/۰۵/۳۱

# يو قدم يو آواز انقلاب انقلاب

## (څاورمه برخه)

په تېرو درې برخو کې مو د حق او د هغه اړخونه، د انګرېزانو کړنې ، پښتنوسره ظلمونه، ناروا وې، د پښتنو بېسواد او له تمدن نه محروم ساتلو کې د انګرېزانو ستر ه ونډه او پاکستانته ئې په دې هکله سپارښتنوته د تاریخ دیوې توري برخې په توګه کتنه وکړه، په دغه برخو کې د فخرافغان باچاخان د عدم تشدد مبارزو او د هغو پایلو دا چې څه عامل د عدم تشدد د غورځنګ د نه بریا سبب شول، د پښتون ځغورنې غورځنګ منځته راتل او د منظور پښتون ژوند ته لنډه کتنه وکړه اوهم پدې اړوند يوشمېر اړوند مسئلوته نظر واچول شو، اوس راځو پاتې برخې ته!

## مبارزه کې د مشرتابه رول او ارزښت:

د مبارزې خبّر چې کله منځته راشي نو سیاست دیو اصل په حیث ورسره تړلی ده، سیاست عربي کلمه ده او ریښه ئې د آس له راملونه اخیستل شوې خوپه لغت کې داریت ، خرد ، دچاروسمون، تدبیرجوړول او وړاندې وروستو فکر کولوته وائې، په فارسي ادبیاتوکې د (چاره کولو) او (اداره کولو) ته هم استعمال شوی، سیاست یعنی ټولنه کې له هغه فعالیت څخه عبارت ده چې نظم د مختلفو عقیدو، نظریاتو، او ګټو ساتولو ترمنځ تضمین یا راولي، داچې په زور اویا هم په حقوقو متکي وي دا جلاخبره، سیاست د اخلاقو سره ډېرې نږدې اړیکې لري. ډېر پوهان وایي چې سیاسي آند بې له اخلاقو نیمګړی دی او اخلاقي آند بدون له سیاست څخه، له بلې خوا هغه څه چې له اخلاقي اړخه نیمګړي وي، سیاسي برخه کې هم نیمګړي وي. یعني سیاست او اخلاق لازم و ملزوم دي. له څېړنو داسې معلومېږي چې سیاست پواځې د سیاست د علم په مطالعه نه بشپړېږي باید چې انسان هر اړخیزه مطالعه ولري څو یو ښه او بریالی سیاستوال شي.

نن ورځ سیاست؛ د ژوند نه بېلېدونکې برخه جوړوي، ځکه د اقتصاد سره بنیادي اړیکې لري او اساس ئې ګڼل کېږي، څرنګه چې سیاست د مبارزې اصل ده هره مبارزه ځانته ځانګړتیاوې لري، چې یو مرام یا مقصد ته د رسېدو لپاره د زمان او شرایطو په نظرکې نیولو له سیاسي کوښش سره رنګ اخلي، کله مبارزه تېزه او تنده، کله خاموشه او پټه،



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کله مسالمت آمیزه او د تشدد پرته، کله قهرآمیزه خونړۍ او تشدد سره ملګري وي، د عدم تشدد مبارزو یو ښه بېلګه چې په همدې تېرو دومیاشتوکي په ارمنستان کي ښي پایلي درلودلي او د مدرن جهان، ښه فرهنګ او رغنده سیاست ښکارندویي کوله بریالی شوې، (سرژ سرکیسیان) چې تېرو لسوکلوکي د ارمنستان ولسمشر وه د نظام له بدلون چې له ریاستی نه پارلماني ته واوخت، بیا غوښتل چې صدراعظم شي پارلمان چې د ده له حزبه و هم ګټونکی شو مګر څرنګه چې خلکوته ئې ښه کار نوکړې د همدې عدم تشدد او سولیزو مظاهرو په مرسته روسته له څو ورځو استعفا ته مجبور شو د دهٔ له استعفا روسته مظاهره کونکو نورې غوښتني مطرح کړې او بسته حکومت استعفا ئې وغوښتله «نیکول پاشینیان» د مظاهره چیانو مشر او هغه کسان چې د دولت لخوا د مظاهرو د جوړو او د عامه نظم په مختلولو زندان ته اچول شوي ول له بنده خوشي او د ارمنیانو دغه مخملي او سوله یځ انقلاب بریا ته ورسېده٠ مقصد له دې یادوني نه دا وه چې سره له دې چې د مظاهرو مشر«نیکول پاشینیان» په زندان کې و، مګر دا سولیزې مظاهرې داسي رهبري شوې چې پایلي بریالۍ وې نو ځکه که اعتراضات باثباته، یوموټې او له ټینګ عزم سره ملګري وي حتمي نتیجه مثبته لاس ته راځي، بل څه چې په دې مظاهرو کې په نظر ښکاري د مظاهرو ښه او مدبره مشرتابه ده چې په یو ښه سیاست لوبولوسره بېلي دې چې وینه توی شي بریا ئې ترلاسه کړه، نو ځکه د پښتون ژغورني غورځنګ چې نوی سر را پورته کړی دخلکو یوموټې کولو لپاره یوې خلاقه مشرتابه ته اړتیا لري٠

ډېر غورځنګونه په همدې شکل منځته راغلل مګر له منځه لاړل ځکه چې مشري ئې ناسالمه یا واحده نه وه لکه افغانستان کې د خلق او پرچم ګوند، د۱۹۷۸زکال د (غوائي) دمیاشتي پاڅون، چې د خلکو لخوا ئې سخت هرکلی وشو درې میاشي روسته د اختلافاتو قدرت غښتني او ناسمي پالیسي ښکار اوتضعیف شو، روسته روساني مرستي ته ودانګل بیا داکتر نجیب الله په مرسته بېرته وویستل شول، سرله دې چې د ډاکتر نجیب الله په مشرۍ ګوند د تېروتنو اصلاح ته لاس واچو او سترو بریاو سره مخ شولکه د جلال آباد جنګ ګټل، مخالفین په خپل بریا بي باوري کول، جنګ کې د پام وړ کمښت رامنځته کول، مګر سره له دې هم سولي ته ډېرواټن پاتي و، په خواشیني سره باید ووایم چې بین الاقوامي توطئي او د ګوند خپل منځي اختلاف ددې سبب شول چې ګوند له ماتي سره مخ شي او ټولي لاسته راوړني چې د سولي لپاره شوي وې په سین لاهوشي، آن داچې د ګوند او دولت مشر ډاکتر نجیب الله خپل ژوند له لاسه ورکړ، او د قدرت جنګو نه د اسلام ترنامه لاندې سترناورین رامنځته کړل، ټول کابل وران او ملوک الطوایفی ته ورته نظام رامنځته شوه، یوشمېرد دولت مشران هم ووژل شول٠

په [۱۸مه ز] پېړۍ کي د فرانسي سترانقلاب چې په نړۍ او تاریخ کي ډېر مشهور دی د سالمي رهبري له تشي، روسته له دوو کالو له منځه ولاړ او ټول رهبران ئې یو یو ووژل شول، دتامیل پړانګانو پاڅون سریلانکاکي روسته له یو اوږدې مبارزې نه په۲۰۰۹زکال د مي په میاشت کي د۵۴کلن "ولوپیلای پرابهاکاران" په مشرۍ له ماتی سره مخ او دی پخپله ووژل شو، همداشان هغه غورځنګونه او انقلابونو چې واحده رهبري لرله بریالي او پاتي شوي، لکه د کوبا انقلاب د فیدل کاستروپه مشرۍ، دهندوستان انقلاب د مهاتماګاندي په مشرۍ، د الجزایر انقلاب په ۱۸۳۲زکال د فرانسي د استعمارخلاف د (عبدالقادر) په مشرۍ، مګر هغو چې واحدې رهبري ندرلودې یا بریالۍ نشول یا خو له بریالیتوبه روسته ژر لمنځه ولاړل، نو ځکه مشر او مشرتابه یا لیډرشپ په ګوند اوغورځنګ کې د ستر اهمیت وړده٠

## مشر یا مشرتابه:

مشر دیوې ټولنې هغه وګړی ته وېل کېږي چې له جسمي او صحي پلوه خاصتاً د ذهني له نظره دټولنې په نوروکسانو ځانګړی خلاقیت ولري چې همدا خلاقیت، دی د خلکوپه زړونوکې محبوب کوي او خلک ترتاثیر لاندې راولي، مشري د یو حرکت، پاڅون او یا غورځنګ ستراصل ګڼل کېږي او له یوې سالمې رهبرۍ پرته بریا شونې نده، همداسې د ګوند اوغورځنګ د بقا لپاره هم مشر ځانګړی رول لري، جمعي مشري د مبارزو یو بنیادي او حیاتي اصل ده، چې هم پکې دموکراسي سا تل کېږي او له «سوبژکتیویسم» یا ذهني ګرې او «لونتاریسم» (خپله اراده غوره ګڼل او په واقعیتو سترګې پټول) نه مخ نیوی کېږي، جمعي مشري یو غورځنګ له شخصیت پالنې یا کېښې شخصیت نه چې کولی شي یو ګوند یا غورځنګ له بربادې سره مخ کړي، مخ نوی کوي، یو مشرتابه ته پکار ده چې:

- ۱- ښه مشر ښه سیاستپو، خلاق او مبتکروي او ښه سیاستپو باید ښه فنکار وي، سنجول شوی قدم وچت کړي او قدم وچتولوکې استوار او پایدار وي د خلکوآرمانوته وفادار او متعهد او له دښمن سره نه پخلا کېدونکی·
- ۲- رښتیني فاکتونه را ټول او هغه په سمه او دقیقه توګه مطالعه او له دې فاکتونه شعارونه او لارښونې راوباسي·
- ۳-دغه لارښونې باید خلکومنځ کې خپرې او پرې نظارت وشي، انعکاسات راټول ترڅو تېروتنې اصلاح شي·
- ۴-داسې کادرونه او فعالان غوره شي چې هغوی متعهد د غورځنګ ارمانوته وي پوهه او ایمانداري ولري سپارل شوې دنده په ایمانداري، صداقت او انرژي سره ترسره کړي·

دچین له تاریخه(۱) نقل ده چې«تای کانګ» د چین ځوان پادشاه ۲۰۸۰ کاله مخکې له میلاده خپل مشاور«ساشون» چې عمرئې په تحقیق او تجسس کې تېرشوی و او یو عالم انسان و را وغوښت او له هغهٔ ئې وپوښتل [څنګه کار وکړم ترڅواعتماد د خلکو ځانته واړم او رهبرشم] هغه ورته په ځواب کې وویل:

- ۱-ترڅواطمینان ونلري بیان ورنکړې·
- ۲-ترڅو یواځې ئې په کوم کارلاس پورې نکړې·
- ۳-ترڅوپه عمل کې قاطع نه ئې د یوکار لافې او دباپې ونه وهې·

پدې توګه یو غورځنګ کولای شي چې ډېرژر په یو سترقوت بدل شي چې یو خوله یو لاس یوه خبر او یو سنجول شوی عمل وي، بیا بریا به خامخا تجلي کوي، پښتون ژغورنې غورځنګ هم چې سترقدم وچت کړی باید په ایمانداري سره د یو با احساسه مشرتابه په غوره کولو دپښتنو هیلې او امیدونه خاورې نکړي او بریاته ورسوي او د فوځیانو د توطئیوغلام نشي، پښتون ژغورنې موومنت دا ثابته کړه چې پښتانهٔ نور هغه ویدهٔ پښتانهٔ ندي دوی کې اوس دا احساس اوشعور پیدا شوی ده چې فقد اتفاق کولی شي دوی وژغوري او همداسې یوې ځوانې رهبرۍ ته اړتیا درلودله که خدای کول ترلاسه ئې کړه·

## پي ټي ام او د مبارزې غښتلې کول:

پښتون ژغورنې موومنت؛ د ویاړلي ځوان منظورپښتون په لار ښونه او مشرۍ په نابېره توګه په داسې وخت کې سر راوچت کړچې پښتون قام سخت یوې ځوانه با احساسه او بادرده مشرتابه ته اړتیا لرله، کوم چې د پنجابي فوځ د ترور،

وحشت او بربریت په خیّرنه فضا کې ګیرپاتې دي، دغه ناولې فضا دپښتنو سیموسربېره په، بلوڅو، او هزاره سیموکې هم په ورته حالت خپره ده۰

د پښتنوغورځنګ پنجابی فوجیانوته داسې ژلق وکړ چې جهاني وښورو، دغه غورځنګ په یو ستر نوچار، له ډاره پرته، داسې غوڅ او تند شعارونه ئې په جارجار دفوج په خلاف خپارهٔ کړل او خلکو په مینه په لوړو آوازو په وار وار تکرار کړل چې، تر اوسه هېڅ ګوند داسې تند شعارونه نه ول کارولي لکه؛ [[یہ جو دہشت گردی ہے اس کے پیچھے *وردی ہے*]]، معنا دا چېرته چې دهشت ګردي ده د هغه شاته وردي ده ( وردي نظامی جاموته وائي) چې مطلب برالا له پوځیانو او پوځي استخباراتونه ده، دارنګه نور تندشعارونه لکه (یوقدم یوآواز انقلاب انقلاب) یا دا چې منظور پښتین د پنجشنبې ورځ دمی په لسمه کراچۍ کې په یو مخامخ تقریرکې داسې وویل « مونږ دا وایو چې د ترهګرۍ شاته پوځ دی؛ نه! مونږ ته پکار ده وواېو چې دوي پخپله ترهګر دي » هغه زیاته کړه "هغه رینجرز چې وسله ورسره ده، د خلکو نه ئې پیسې، موبایلونه اخیستي، خلک يې وهلي ټکولي دي، دا ترهګر نه دي نو څه دي؟"

داسې شعارونه او تندې وېناوې د پاکستان فوځي واکدارانو په خلاف بلکل نوې خبرده او فوجیان ئې سخت هک پک اوحیران کړل، چې دا قوت له کومه سرراپورته کړ، فوجیانو په یوبېړني حالت کې ترټولو لمړی پاکستاني مطبوعاتوته خبرداری ورکړچې په قطع صورت د دغه غورځنګ جلسات، لاریونونه او اشتهارات خپاره نکړي او د دوی هررنګه فعالیت په مطبوعاتوکې منعکس نکړي، فوج پدې هم بسیا نشو او یوشمیر مزدور پښتانه ئې راټول کړل چې د غورځنګ د مخنیوي لپاره جلسې جوړې کړي او پښتون ژغورني غورځنګ شعارونه برعکس استعمال کړي، لکه داشعارچې د استخبارتو لخوا جوړ او خپل مزدورانو ته ئې ورکړ[یہ جو دہشت گردی ہے اس کے ،،علاج؟؟!!،، *وردی ہے*] دا شعار د[سازمان تحفظ ختم نبوت] په نامه د [پاکستان فوج زنده باد] په نارو راپورته کړ، او پښتون تحفظ موومنت PTMئې پردو ته په خدمت تورن کړ، البته چې دا کومه ناآشنا خبره نده پنجابي استخبارات دخپل ظلمونو او تروورونو پټولو لپاره باید داسې نغارې ووهي، پنجابي استخبارات د دغه غورځنګ د فعالیت محدودول او بدنامولو لپاره خامخا ډېرې هلې ځلې کړي او ښائي لانورهم زیاتي شي ترڅو غورځنګ ځانته سلامې کړي، مخکې له دې چې پنجابیان غورځنګ ته ستونزې جوړې کړي غورځنګ مخته څنې امکانات مهم دي شته چې ورته پام وساتي:

۱- ترهرڅه دمخه دغورځنګ سیاسی اړیکي له نورو هم نظره ګوندنو، سیاسي شخصتونو، ډلو اوقومونو سره نږدې او داسې تنظیم شي چې غورځنګ وکولای شي په کورني او بهرني سطح کې زیات دوستان او خواخوږي پیدا کړي، دپنجابیانو د نارو ا په هکله د سیمې او دنیا سترو هیوادوسیاسیون او مېډیا ذهن ځان خواته را واړه وي او د هغو حمایت راجذب کړي۰

۲- په کورني برخه کې د بلوڅو آزادي بښونکي تحریک سره نږدې اړیکي جوړول او خپل فعالیتونه همآهنګول د سند هم نظره ګوندوسره هم اړیکي جوړل، د غورځنګ پراخې کورني او بهرني اړیکي د غورځنګ مشروعیت او امنیت خوندي کوي او په ریاست فشار زیاتوي۰

۳- پنجابی فوج وائي:«زمونږ دروازه دهرچاپه مخ خلاصه ده» PTM باید خپلې خواستې ورته واستوي او ترڅنګ ئې داسې سیاست غوره کړي چې فوج ورته خبروته راشي یا ترې دعوت وکړي! او دا هغه وخت شوني ده چې غورځنګ یووجب هم له خپلو خواستو ګذشت ونکړي او د ریاست عملی ګام اخیستل اصلی شرط وګرځوي۰

٤- ریاست دغورځنګ له غوښتنو په یوه او بله بهانه وخت تېروي چې ترڅو خلک په غورځنګ بې اعتباره کړي چې مقبولیت او محبوبیت ئې بې خونده شي او خپل اثرو رسوخ له لاسه ورکړي۰

٥- تش شعارونه او متینګونه چې نتیجه ونلري خلک نا امیده اوستړي کوي په تېره که ریاست د غورځنګ غوښتنوته ځواب ورنکړي او وخت کشي وکړي، پداسې حالت پکار ده چې مېتينګونه او مظاهرې تندې شي پدې معنې چې له هغه ځایونه چې ریاست ئې ورته په نښه کوي د ښارونو منځته ووځي که ممکنه وي مدني نافرماني هم زیاتې کړي۰

په مبارزه کې شخصیت، نظم او تاکتیک ستر اهمیت لري، شخصیتونه کولی شي داسې فن و کاروي چې ستر تاثیر د ټولنو په تاریخي ودې پرځاي پېږدي که چېرې دا فعالیت د ټولنې د ودې (تکامل) د عینی قوانینو اوشرایطو سره انطباق ولري۰

د ځلورمې برخې پای

نوربیا